بُست پوهنتون

اقتصاد پوهنځی رياست

د ستراتيژيک پلان فرعي کميټه

.

# د ۱۴۰۱ کال لپاره د مالي او بانکي څانګي د تطبيقي پلان د کلنی څارني راپور

**نيټه: حمل ۱۴۰۲**

## د مطالبو فهرست

موضوع پاڼه


**1.د پيل خبري** ........ 1

**2.د راپور غورچاڼ** ........ 1

**3.جزياتي راپور** ........ 2

**4.تحليلي او پرتله ايز چارونه؛** ........ 5

**5.نيمګړتياوي، لاسته راوړني او وړانديزونه** ........ 9

## 1. د پیل خبري

2. مالی او بانکي څانګي په ۱۴۰۱ کال کي خپل لومړی ستراتیژیک پلان چمتو کړ چي په کښې د لوړو زده کړو وزارات او بُست پوهنتون اکاډمیکو ارزښتونو او موخو ته په کته د زیربنا، علمي څیړنو، ښه حکومتولی، ټولني سره مرستي او ټکنالوژیکي پرمختګ مقاصدو ته په کتو سره ۲۱ بیلابیل پروګرامونه د پنځو کلونو لپاره پلان سوي دي. نوموړی پلان د ستراتیژیک پلان د معیارونو مطابق د رښتیني مالوماتو او پلټونو پر بنسټ چمتو سوی چي د ۱۴۰۱ څخه تر ۱۴۰۵ پوري به یې اهداف تحقق پیدا کړي.

3. دا دی د ۱۴۰۱ کال په تکمیلیدو سره د مالی او بانکي څانګي له خوا درې تنه هئتانو ته د نوموړي ستراتیژیک پلان پر بنسټ د ۱۴۰۱ کال تطبیقي پلان د تطبیق څخه د څار دنده ورکړل سوه چي نوموړي هئیت خپله دنده په بریالیتوب سره پای ته ورسوله او راپور یې د اقتصاد پوهنځی محترم ریاست ته وړاندي کیږي.

## 4. د راپور غورچاڼ

A. **<u>په دې راپور کي تر لاسه سوي مالومات د تائید سویو فورمو پر بنسټ راټول سوي او د څانګري تحلیل پر بنسټ ارزول سوي دي.</u>**

B. **<u>د ۱۴۰۱ کال په تطبیقي پلان کي ټولټال ۱۲ پروګرامونه پلان سوي چي له هغې جملي څخه یې ۹ پروګرامونه پیل سوي او څه نا څه عملي سوي دي.</u>**

C. **<u>له نهو پروګرامونو څخه ۵ یې تر پنځوس سلنه په کمه اندازه عملي سوي، یو پروګرام سل سلنه علمي سوی او درې نور پروګرامونه له ۵۰ سلني زیات عملي سوي دي.</u>**

D. **<u>مالي او بانکي څانګي په منځنی کچه خپل اهداف لاسته راوړي دي</u>**

E. **<u>د دریو پروګرامونو نه پیلیدلو لاملونه د شرایطو نه مساعداوالی او د ځنیو امکاناتو نه شتون په ډاګه سوی.</u>**

F. **<u>دا چي د پوهنځی بودیجه د پوهنتون د مرکزي بودیجې یوه برخه ده او څانګري بودیجه نه لري، د پروګرامونو مصاف د پوهنتون له خوا د نورو برخو سره په مجموعي ډول تادیه سوي او څکه نو د هر پروګرام د بودیجې د مصرف دقیقه سلنه په لاسه راوړل ګران وه.</u>**

## 5. جزیاتي راپور

| شماره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۱ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړي ربعې پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د دوهمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د درېمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د څلورمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت (مصرف سوې / اضافه سوې / کسر لري) | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز / تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د ځانګو اعتبار اخیستني لپاره اماده ګي نیول | د حمل څخه د اسد میاشتې تر پایه | بلي | په دې ربع کې فعالیت نه دی تر سره سوی | 50% | 62% | 45% | 52% | اضافه سوې | | د ډیپارټمنټ د ارزوني او دریم پړاو ځان ارزوني د چیک لیست مطابق د ځانګو په مستندانو او چارو کې د پام وړ مثبت تغیر راغلی | د ځانګو لپاره د منظمې بودیجې نه موجودیت د کادري پرسونل نه موجودیت | په راتلونکي کال کې پاته چارو ته ادامه ورکول کیږي |
| 2 | د علمي څیړنو زیاتوالی | د حمل څخه د جوزا میاشتې تر پایه | بلي | په دې ربع کې فعالیت نه دی تر | 20% | 54% | 55% | 43% | اضافه سوې | | په ملي او نړیوالو ژورنالو کې تقریبا شپږ مقالې نشر سوي دي | د کادري استادانو کمبود د دې باعث ګرځیدلی چې دا بهیر ټکنی مخته ځي | په راتلونکي کال کې دا بهیر د نوي تطبیقي پلان مطابق مخته ځي |
| 3 | د استادانو لنډ مهاله ظرفیت لوړونه | دوامداره | بلي | په دې ربع کې فعالیت نه دی تر | 0 | 50% | 50% | 33.3% | اضافه سوې | | له ستونزو او مصروفیتونو سره سره استادانو ته د ظرفیت لوړوني دوه پروګرامونه دایر سوي | د بودیجې کمښت او د ټرېنر استادانو کمبود د ټولو پروګرامونو د دایریدو په وړاندې خنډ و | دا پروګرامونه به د نوي کال د تطبیقي پلان مطابق ادامه پیدا کوي. |

| شمېره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۱ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړۍ ربعې پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د دوهمې ربعې د پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د درېمې ربعې د پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د څلورمې ربعې د پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت (مصرف سوې / اضافه سوې / کسر لري) | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز / تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 | د مالي امکاناتو او عوایدو زیاتول | د سرطان میاشتې څخه د اسد میاشتې تر پایه | نه | په دې ربع کې فعالیت نه دی تر | — | — | — | — | اضافه سوې | — | — | د داسي برنامو لپاره زمينه په دې کال کې نه ده مساعده سوې | راتلونکي کال کي کوښښ کيږي چي د سږ کال پاته پروګرامونه پوښښ سي |
| 5 | د بشري سرچینو د ارتیاوو رفع کول | دوامداره | بلي | په دې ربع کې فعالیت نه دی تر | 0 | 0 | 100% + 50% | 50% | اضافه سوې | | په اداره او تشبثات څانګه کي دوه نفره کادري استادان جذب سوي دي | د مالي او بانکي څانګي لپاره د کانديدانو د نشتون ستونزه وه | په راتلونکي کال کي به د پلان مطابق د مالي او بانکي څانګي د استادانو په اړه هم تصميم ونيول سي |
| 6 | د کمیټو د ظرفیت لوړوني په موخه | د سنبلې میاشتې څخه د قوس میاشتې تر پایه | بلي | په دې ربع کې فعالیت نه دی تر سره سوی | 0 | 50% | 100% | 50% | اضافه سوې | | د کمیټو د ظرفیت لوړوني په موخه د پوهنځی له داخلي منابعو څخه په استفادې تقریبا پنځوس سلنه هدف لاسته راغلی | د کمیټو مصروفیات او د دريم پړاو ځان ارزوني لپاره اماده کې د ټولو پروګرامونو د دايريدو په وړاندي خنډ وه | نوي پروګرامونه به د نوي تطبيقي پلان مطابق داير سي. |
| 7 | د اداري کارمندانو د ظرفیت لوړوني په موخه پروګرامونه | د جدي څخه د حوت میاشتې تر پایه | بلي | په دې ربع کې فعالیت نه دی تر | 0 | 0 | 100% | 33.3% | اضافه سوې | | د کارمندانو د رزوني په برخه کي داير سوي پروګرامونه موثر او د ارزوني نتيجې يې ښې وې | د اداري کارمندانو کموالی او ډير مصروفيت د لا ډيرو پروګرامونو د دايريدو په وړاندي يو ستونزه وه | په راتلونکي کال کي به د اداري کارمندانو لپاره موثر پروګرامونه طرح سي |

| شمېره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۱ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړۍ ربعې پرمخک کچه | د دوهمي ربعې د پرمختګ کچه | د دریمي ربعې د پرمختګ کچه | د څلورمي ربعې د پرمختګ کچه | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز / تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | | مصرف سوې / اضافه سوې / کسر لري | | | | |
| 8 | د محصلینو د کمیت د زیاتوالي په موخه پروګرامونه | دوامداره | بلي | په دې ربع کې فعالیت نه دی تر | 100% + 50% | —— | 100% + 50% | 100% | اضافه سوې | | تر ټاکل سوي پلان زیات محصلین جذب سوي. البته دواړه سمسترونه په یوه ځانګه کې | د مالي او بانکي څانګې د محصلینو جذب د رهبرۍ او وزارت د لزوم دید پر اساس درول سوی | په نوي کال کې به د مالي او بانکي څانګې د جذب په وړاندې د خنډ لپاره هلې ځلې وسي |
| 9 | د محصلانو او فارغانو د ظرفیت لوړولو په موخه پروګرامونه | د سرطان میاشتې څخه د عقرب میاشتې تر پایه | بلي | په دې ربع کې فعالیت نه دی تر سره سوی | 22% | 25% | 33% | 26.6% | اضافه سوې | | د محصلینو او فارغانو لپاره که څه هم لړۍ، پواځې درې پروګرامونه دایر سوي، ولې پوره موثریت یې درلود | تر تدریسي وخت بغیر د محصلینو مصروفیات، د فارغانو نه حاضریدل او د اداري ستونزو له کبله ټول پروګرامونه دې دایر سوي | په ۱۴۰۲ کال تطبیقي پلان کې به دا ډول پروګرامونه ادامه ولري. |
| 10 | د محصلینو د تشویق/سکالرشیپونو پروسه | د اسد، سنبلې، جدي او دلو میاشتې | نه | په دې ربع کې فعالیت نه دی تر | — | — | — | — | اضافه سوې | — | — | د بودیجې د کمښت او د شرایطو د نه مساعدوالي له کبله دا پروګرام تعلیق سوی | په نوي کال کې به د دې پروګرام د بیا پیل لپاره هڅه وسي. |
| 11 | د ښځینه محصلانو سره د مرستې په خاطر پروګرامونه | دوامداره | نه | په دې ربع کې فعالیت نه دی تر | — | — | — | — | اضافه سوې | — | — | د ښځینه محصلینو د نشتون او زده کړو د تعلیق له امله نه دی عملي سوی. | د ستونزو له هوارۍ سره او شرایطو مساعدیدو سره به دا پروګرام پیل سي. |

| شمېره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/فعالیت موده په ۱۴۰۱ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړي ربعي پرمختګ کچه | د دوهمي ربعي پرمختګ کچه | د دریمي ربعي پرمختګ کچه | د څلورمي ربعي پرمختګ کچه | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړني/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز / تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | | مصرف سوي / اضافه سوي / کسر لري | | | | |
| 12 | د تولني سره د مرستي په موخه پروسه | دوامداره | بلې | په دې ربع کې فعالیت نه دی تر سره سوی | 30% | 0 | 55% | 28.3 | اضافه سوي | | که څه هم د پلان مطابق پروګرام نه دی داير سوی. ولي د څینو اداراتو سره د علمي څېړنو پر بنسټ او مشورو په برخه کې همکاري تر سره سوي ده | د پرسونل کمښت، د بودیجې کمښت او د مصروفیتونو زیاتوالي په دې برخه کې اصلي چیلنجونه حسابیږي | د چیلنجونو د له منځه تلو سره به دا پروګرام په ۱۴۰۲ کې ادامه پیدا کړي. |
| | مجموعي نتیجه | د کال په توله جریان کې | له 12 څخه 9 پروګرامونه پیل سوي | د ستراتیژیک پلان د تصویب د ځنډ له امله په دې ربع کې فعالیت نه دی سوی | په دې ربع کې اوسط 30.22 سلنه فعالیت تر سره سوی | په دې ربع کې اوسط 26.77 سلنه فعالیت تر سره دی. | په دې ربع کې اوسط 82 سلنه فعالیت تر سره سوی دی | اوسط 46.33 سلنه فعالیت تر سره سوی دی | اضافه سوي | | تر سره سویو پروګرامونو ښه موثریت درلود او د هدف په لاسته راوړلو کې یې کارنده رول لوبولی دی | د بودیجې کمښت، د ستاپ کمبود، د دایمي استادانو کمبود، مصروفیتونه او د تولني غیر مساعد شرایط اصلي خنډونه وه | کوښښ کیږي چې د ۱۴۰۲ کال تطبیقي پلان کې موثرو پروګرامونو ته ادامه ورکړل سي او د امکان په صورت کې د ۱۴۰۱ کال پاته پروګرامونه هم تطبیق سي. |

## 6. تحلیلي او پرتله ایز چارونه؛

**1 چارت: د پلان سویو او تر سره سویو پروګرامونه احصایه راښيي.**


د ۱۴۰۱ کال ټول پروګرامونه
عملي سوي
په ۱۴۰۱ تطبیقي پلان کې پلان سوي
په ستراتیژیک پلان کې ۱۴۰۱
9
12
13
0
2
4
6
8
10
12
14
پروګرامونه

## 2 چارت: د پروګرامونو د تطبیق پرتله راښيي:




| | علمي پراختیا | اداري پراختیا | لوړو زده کړو ته لاسرسي | ښه حکومتولي | د تولني سره مرسته |
|---|---|---|---|---|---|
| لومړی پروګرام | 52% | 0.00% | 100% | 50% | 28.30% |
| دوهم پروګرام | 43% | 50% | 26.60% | 33.30% | 0.00% |
| دریم پروګرام | 33.30% | 0.00% | 0.00% | 0.00% | 0.00% |

## 3 چارت: د هدف د لاسته راوړني سلنه رانښيي:




## 4 چارت: د بودیجې د مصرف سلنه او پرتله:

## 7. نیمګړتیاوي، لاسته راوړني او وړاندیزونه

**الف؛ نیمګړتیاوي**

I. د مالي او بانکي څانګي د ستراتیژیک پلان لپاره څانګړې او مخصوصه نه وه ورکول سوې؛
II. د پوهنځی د بشري سرچینو تعداد کم او د ځینو پروګرامنو د پیلولو لپاره کافي امکانات نه وه
III. د دایمي استادانو کمبود او د کادري سیستم نه موجودیت دې لامل سوی تر څو د علمي پراختیا پروګرام په مکمل ډول تطبیق نه سي.
IV. د مالي او بانکي څانګي د استادانو د کمبود له کبله په نوموړې څانګه کي د نوي جذب پروسه په ټپه ولاړه ده
V. د پوهنتون د رهبری له خوا د پوهنځی د ستراتیژیک پلان د تطبیق په برخه کي کمه حمایه د ځینو پروګرامونو د ځنډ او خنډ لامل سوې ده
VI. د ستراتیژیک پلان د تائید پروسې د ځنډیدو له امله په لومړی ربع کي هیڅ ډول فعالیت نه دی تر سره سوی.

**ب: لاسته راوړني:**

I. د محصلینو د جذب پروګرام په مکمل ډول تطبیق سوی دی
II. که څه هم فعالیتونه په مکمل ډول نه دي تر سره سوي ولې تر سوي برخي یې د پلان مطابق وې.
III. امکاناتو او منابعو ته په کتو سره پوهنځی توانیدلې چي نږدې ۵۰ سلنه اهداف لاسته راوړي
IV. د پوهنځی رهبري او پرسونل د ستراتیژیکو اهدافو لاسته راوړلو ته متعهد دي

**ج: وړاندیزونه**

**I. د مالي او بانکي څانګي اداري او کادري پرسونل زیات کړل سي او ظرفیتونه یې لوړ سي**
**II. د پوهنځی لپاره د پوهنتون د بودیجې په چوکاټ کي مخصوصه بودیجه د ستراتیژیکو اهدافو لاسته راوړلو په منظور مشخصه سي**
**III. هغه پروګرامونه چي نیمګړي پاته دي او یا هم نه دي پیل سوي، د ۱۴۰۲ کال تطبیقي پلان کي ځای پر ځای سي.**
**IV. د پوهنتون او پوهنځی د رهبری له خوا اړین امکانات او منابع په اختیار کي ورکړل سي.**

**په درنښت**

د تطبیقي پلان څخه د څارني هئیت د غړو لاسلیک؛

د هئیت مشر نوم او لاسلیک　　　د هئیت غړي نوم او لاسلیک　　　د هئیت غړي نوم او لاسلیک

1: پورته د ۱۴۰۱ کال تطبیقي پلان د کلنی څارني راپور د ستراتیژیک پلان فرعي کمیټې په (　　) نمبر جلسه کې په　　/　　/　　نیټه تائید سو.

د ستراتیژیک پلان فرعي کمیټې د مسؤل نوم؛ ارسلان وطندار　　د ستراتیژیک پلان فرعي کمیټې د مسؤل لاسلیک؛　　نیټه؛

2: پورته د ۱۴۰۱ کال تطبیقي پلان د کلنی څارني راپور د اقتصاد پوهنځی د علمي شورا په (　　) نمبر جلسه کې په　　/　　/　　نیټه تصویب سو.

د اقتصاد پوهنځی د علمي شورا د رئیس نوم ؛ اسدالله اندیال　　د اقتصاد پوهنځی د علمي شورا د رئیس لاسلیک؛　　نیټه:　　د اقتصاد پوهنځی مُهر؛

3: پورته د ۱۴۰۱ کال تطبیقي پلان د کلنی څارني راپور د بُست پوهنتون د علمي شورا په (　　) نمبر جلسه کې په　　/　　/　　نیټه تصویب سو.

د بُست پوهنتون د علمي شورا د رئیس نوم ؛ ډیپلوم انجنیر محمود سنګین　　د بُست پوهنتون د علمي شورا د رئیس لاسلیک؛　　نیټه:　　د بُست پوهنتون مُهر؛